بسم الله الرحمن الرحیم

**د «خيبر پښتونخوا» او «فدرال قبيلوي سيمو» يو ځای کېدل هېڅ بدلون نه شي را وستلی**



**(ژباړه)**

**خبر:**

د ۲۰۱۷م کال د نومبر له ۱۲مې را په دې خوا، کله چې په جمرود کې د ګډونوالو د «ځوانانو په کنفرانس کې» د مرزي جنايي قوانينو(FCR) د لغوې غږ پورته کړ او د «فدرال قبيلوي سيمو(FATA)» او «خيبر پښتونخوا» سيمې د ژر يوځای کېدو غوښتونکي شول، د پاکستان په خيبر پښتونخوا ولايت کې بحثونه او سختې شخړې پيل شوې. د ملي مجلس غړي حاجي شاه جي ګل افريد داسې وويل: « ددې وخت را رسېدلی، چې د مرزي جنايي قوانينو په لغوه کولو سره د «فدرال قبيلوي سيمه» خپل اصلي مسير ته راولو.» ده ټينګار وکړ، چې د قبايلو متنفذينو « مرزي جنايي قوانين» رد کړل او غواړي، چې دغه سيمې د هېواد تر رهبرۍ او اساسي قانون لاندې اداره شي.

**تبصره:**

په حقيقت کې د «فدرال قبيلوي سيمې» د پاکستان په شمال لوېديځ کې يو نيمه خپلواکې سيمې دي، چې له اوو قبيلوي حوزو(ولسواليو) او شپږو سرحدي سيمو څخه جوړې شوې دي. دا ټولې سيمې مستقيماً د پاکستان د فدرال دولت له خوا د«مرزي جنايي قوانينو(FCR)» په نامه تر ځانګړو قوانينو لاندې اداره کېږي. دغه سخت

قوانین د پخوانۍ مستعمرې یعنې انګلسي راج له لوري په ۱۸۷۷م کال کې د هند پر مسلمانانو د پښتنو مجاهدینو د ځپلو لپاره، چې د انګلیس خونړي اشغال پر وړاندې یې مبارزه کوله، را منځته شول.

د «FCR» قوانین د ځانګړو افرادو د جرمونو له امله پر کورنۍ او د قبیلې پر غړو جزاوې تحمیلوي، دغه قانون د قضائیه قوې په مرسته  ان د تورن د محاکمې حق ردوي او تورن ته سزا ورکوي. د دغه قانون په دستور کې که د قبیلې مشران له مجرم سره په لږ لاس لرلو تورن شول، نو د جرم له ثابتولو یې پرته د فدرال دولت پر مجازاتو محکوموي. له دغه قانون څخه سرغړونه، د قبیلې مشران تر سختو سزاوو لاندې راوستلی شي. سره له دې انګلیس هڅکله په پښتون مېشتو سیمو کې د مجاهدینو پر ځپلو  بریالی نه شو او دغه قانون په افغانستان کې د نا امنۍ لپاره د یوې قوي وسلې یا «بفر زون» په توګه کارول کېده. په پای کې د انګلیس نظامي ځواکونه ووتل او تر اوسه د بیا راتګ جرئت نه لري.

د پاکستان له جوړېدو وروسته د «فدرال قبیلوي سیمه« تر اوسه هم د پردیو د اشغال پر وړاندې د مقاومت د یوې جبهې په توګه کار کوي. د فدرال قبیلوي سیمې مسلمانانو د شوروي اتحاد اشغال پر وړاندې هم لکه د انګلیس امپراطورۍ پر وړاندې مقاومت وکړ، چې تر اوسه د بیا راتګ جرئت نه لري. د امریکا له نظامي حملې وروسته یو ځل بیا د فدرال قبیلوي سیمه په افغانستان کې د ناټو پر ځواکونو د حملو پلانونو مرکز و. خو په هغه وخت کې د پاکستان په رهبرۍ کې د امریکا مزدورو چارواکو د اشغالګرو ظالمانه وضعي فرمان قبول کړ، چې وروسته  یې د قبایلي پښتون مېشتو مسلمانانو د مقاومت د کمزوري کولو په موخه ظلمونه او ځورونې پیل کړې.

دغو مزدورو چارواکو په قبایلي سیمو کې وضعیت ترینګلی کړ، چې د پراخو مهاجرتو کړکېچ یې رامنځته کړ. اوس امریکایي چارواکي په بېلابېلو پلمو او چلونو سره د خلکو مقاومت ځپي لکه؛ په قبایلي سیمو کې د جنایي قوانینو په له منځه وړلو سره غواړي هلته د فدرال امنیتي دستګاه د تل لپاره ولېږدوي، چې موخه یې د حکومتي قوانینو تر ولکې لاندې د قبایلي سیمو راوستل دي.

د امریکا د ټولو شومو پلانونو په پلي کولو سره سره، د پاکستان حکام په غولونکي ډول هغه د خپل هېواد په ګټه تبلیغوي او دا ځل داسې ادعا کوي، چې هغوی غواړي د فدرال قبیلوي سیمې ټول مسلمانان له هغو ټولو قضایي حقونو څخه برخمن کړي، چې ټول هېواد ترې برخمن دی. کله چې  د ۲۰۱۷م کال د جنوري له ۲۴مې ورسته فدرالي حکومت د «فدرال قبیلوي سیمې» او «خیبر پښتونخوا» سیمو د یوځای کولو پرېکړه وکړه، ډېر ژر د پاکستان حکومت ادعا وکړه، چې موږ د «فدرال قبیلوي سیمې» مسلمانانو ته د ښاریتوب هغه حقونه ورکوو، چې

ټول هېواد ترې برخمن دی. وروسته بیا د ۲۰۱۷م کال د اکتوبر پر ۱۷مه د «فدرال قبیلوي سیمې» اجرایوي ملي کمېټې د لایحې د ژر تصویب په موخه د بهرنیو چارو وزیر ته د دواړو پارلماني مجلسونو له لارې د اصلاحاتو امر وکړ او همدارنګه یې ځینې قانوني او اداري چارې تر سره کړې، چې ډېر ژر دغو قبایلي سیمو ته قضایه قانون خپور کړي.

له شک پرته چې د رژیم ادعا بې بنسټه او احمقانه ده. دا په ټول پاکستان کې څرګنده ده، چې مسلمانان له هېڅ ډول حقونو څخه برخمن نه دي. دا په داسې حال کې ده، چې دیموکراسي نظام په «فدرال قبیلوي سیمه» کې دننه یا له هغې څخه بهر، تر«مرزي جنايي قوانینو» لاندې یا له هغو څخه پرته، مسلمانان له خپلو اسلامي حقونو څخه بې برخې کوي. د بشر په لاس جوړ شوي قوانین، د دوسیو په حل کې په کلونو کلونو ځنډ، پخپله د مسلمانانو لپاره یوه بې عدالتي ګڼل کېږي.

لنډه دا چې: د پانګوالۍ نظام تر چتر لاندې ډېری عام خلک د لوړو زده کړو حقونو، صحي او روغتیایي اسانتیاوو، د امنیت ټینګښت او معیاري ژوند ته لاسرسی نه شي موندلی، ځکه چې د دولت ټوله پانګه د څو محدودو خلکو په لاس کې ده.

له شک پرته چې د هند شبه قارې مسلمانانو د پاکستان د جوړولو لپاره ډېرې هڅې وکړې، چې اسلامي شریعت یې د ژوند په ټولو برخو کې پلی او د اسلام تر سیوري لاندې ژوند وکړي. نن هغه وخت را رسېدلی، چې د «فدرال قبیلوي سیمه»، «خیبر پښتونخوا» او د پاکستان ټول مسلمانان د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره کار وکړي. بیا به هغه وخت راشي، چې د ښار هر اوسېدونکی به له اساسي دندو او له خپلو انساني حقونو څخه برخمن شي.

﴿إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ﴾

[یوسف: ٦٧]

*ژباړه: حکم او فرمان یوازې د الله سبحانه وتعالی دی.*

**لیکوال:د حزب التحریر- ولایه پاکستان د رسمي ویاند مرستیال شهزاد شیخ**

**۱۴۳۹هـ.ق، د ربیع الاول٦مه**

۲۰۱۷م، د نومبر۲۵مه

ژباړن: بشارت